**د " نړيوالي پرانيستي ورځې" لمانځنه، د ملګرو ملتونو چارواکي په سياسي او د سولي په بهيرونو کي د ښځو د عمومي ګډون لپاره غږ کوي**

**کابل، د ۱۳۹۳ کال د تلي د مياشتي ۱۵ نيټه**- د ملګرو ملتونو د مشرتابه چارواکو نن ورځ په افغانستان کي په سياسي او د سولي په بهيرونو کي د ښځو د ارزښتناک ګډون پر زيات اهميت باندې ټينګار وکړ.

نن ورځ د هغي غونډې وروسته چي په کابل کي جوړه شوه چي په کي د ۲۰۱۴ کال لپاره د " د ښځو ، سولي او امنيت لپاره نړيواله پرانيستي ورځ " ولمانځل شوه ، او په هغي کي د مدني ټولني په استازيتوب افغان ميرمنو ګډون درلود، د ملګرو ملتونو دوو لوړ پوړوچارواکو – د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي مرستيال استازي ښاغلي نيکولاس هيسم، او د ملګرو ملتونو د جنسيت د برابرئ او د ښځو د پياوړتيا ( يو اين ومن) د ځانګي لپاره مرستيالي هيوادنۍ استازې آغلي پاميلا ف حسين په دې الزاميت ټينګار وکړ چي د ښځو لرليدونه، فعاليتونه او د هغوي ګډون يي په هېواد کي د تل پاتي سولي د راوستلو په لار کي لري.

ښاغلي هيسم و ويل: " د دې سره سره چي په تيرو دولسو کلونو کي د پام وړ پرمختګ شوی دی، ډير څه ته اړتيا ده چي بايد تر سره شي څو د افغان ميرمنو لپاره د دې فرصت برابر شي چي مشرتوب وکړي او د پريکړې کولو په چارو کي د نارينه وو سره برابر نقش ولوبوي، په تيره بيا د امنيت او حکومتولی په لړ کي، چي دا په ژوره توګه د ښځو په ورځني ژوند باندې اغيزه لري."

هغه زياته کړه:" د نوي حکومت څخه د دې غوښتنه شوې ده چي د ښځو د حقونو په برخه کي خپلو ژمنو ته درناوی ولري ."

اغلي پا ميلا حسين و ويل:" د مدني ټولني، او په تيره بيا د ښځو د حقونو د مدافعانو نقش او د پريکړو کولو په ټولو کچو کي د هغوي ګډون د تل پاتي سولي او با شموله حکومتولی د باوري کولو لپاره خورا اهميت لري. د نن ورځي استازو اساسي موضوعات تشخيص کړل چي هغه بايد د نوي حکومت له خوا د مدني ټولني سره په همکاری کي پر مخ ولاړ شي څو هغه لاسته راوړني چي د ښځو د حقونو په برخه کي شوي دي لا مستحکمي شي او په دې توګه د ټولو افغانانو لپاره يوه مصونه او سوله ييزه او ټول شموله راتلونکي تامين شي. "

نړيواله پرانيستي ورځ د ملګرو ملتونو د مشرتابه او په نړۍ کي د ښځو د سازمانونو په منځ کي د ډيالوګ لپاره يوه وسيله ده چي د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا ۱۳۲۵ شميره پريکړه ليک، چي په ۲۰۰۰ کي تصويب شو، د تطبيق په اړه بحث کوي. پرانيستي ورځ په ۲۰۱۰ کي پيل شوه او د پرېکړه ليک لسمه کاليزه يي ولمانځله چي د شخړو په مخنيوي او حل، د سولي په مذاکرو، سولي رامنځ ته کولو، سولي ساتني، د بشرپالني په فعاليتونو او د جګړو څخه په وروسته دوران کي په بيا رغونه

کې د ښځو په نقش باندې بیا ټاکید کوي، او د دوي د برابرې ونډې اخیستنې په اهمیت او سولې او امنیت د پرمختګ په ټولو هڅو کې د دوي د بشپړ ګډون په اهمیت بیا ټینګار کوي.

د نن ورځې په غونډه کې، د ښځو د مدني ټولنو استازو هغه ستر خنډونه په ګوته کړل چې د سولې او په سیاسي پروسې کې د دوي د ګډون مخنیوی کوي. دغه خنډونه په دې ډول دي: په انتخابي او انتصابي پوستونو کې د ښځو کمه ونډه، په تیره بیا په هغو موقفونو کې چې پریکړې صادروي؛ د ښځو د سیاسي حقونو څخه بې خبري؛ د لیک لوست ټیټه کچه چې د عامه څوکیو د نیولو لپاره په سیالیو کې د ښځو په زیان تمامیږي؛ او تبعیض امیزه ټولنیز دودونه چې په ټولنیزو او اقتصادي فرصتونو کې د ښځو ونډه محدودوي.

استازو له ملګرو ملتونو څخه د زیاتو تخنیکي او مالي مرستو غوښتنه وکړه، څو د مشرتابه او د سیاسي حقونو په عملي کولو کې، خصوصا د راتلونکی ۲۰۱۵ کال د پارلماني ټاکنو په رڼا کې د ښځو قابلیت وده وکړي. له دې څخه علاوه، دوي له ملګرو ملتونو غوښتنه وکړه چې د ۱۳۲۵ شمیره پریکړه لیک د تطبیق لپاره د افغانستان د عمل د ملي پلان تصویب او تطبیق تقویه کړي.

ښاغلي هیسم او آغلي حسین د ملګرو ملتونو ژمنې بیا تکرار کړې چې له افغان مدني ټولنې او موسساتو سره مرستې کوي، چې د سولې جوړونې، سولې ساتنې او د شخړو د مخنیوي په ټولو مرحلو کې، د اړونده صلاحیتونو سره سم د ښځو ونډه زیات او تقویه شي.

دغه راز، د ملګرو ملتونو چارواکو له فرصت څخه په استفادې سره په عامه ژوند کې د ښځو د بشپړ ګډون په اړه د افغان فعالینو ارزښتناکه ونډه وستایله، چې زیاتره له ډیرو ګواښونو سره مله وه. دوي مدني ټولنه دې ته وهڅوله چې په خپلو منځونو کې او هم له حکومت سره همکاري وکړي څو د دوي د فعالیت اغیزې او پایلې ښې او زیاتې شي.

***